# د مکې مکرمې په فتحه کې د رسول الله ص سیاسي بصیرت او پالیسي

## لنډیز


د مکې د فتحې پېښه د اسلامي تاریخ له سترو او ژورو سیاسي تحولاتو څخه ده، چې د رسول الله ﷺ د لوړ سیاسي بصیرت، حکمت او درایت څرګندونه کوي. دا څېړنه د نبوي سیاست د عفوې، عدالت، ټولنیز ثبات او د اسلامي امت د یووالي د ستراتېژۍ د تحلیل لپاره ترسره شوې ده. د څېړنې موخه دا ده چې د مکې د فتحې په بهیر کې د رسول الله ﷺ سیاسي پالیسي او بصیرت د معاصر اسلامي سیاست د بنسټیزو اصولو په رڼا کې وڅېړي. د څېړنې طریقه توصیفي ـ تحلیلي ده او د مهمو تاریخي منابعو، سیرت‌النبي او قرآني ارشاداتو پر بنسټ ولاړه ده. پایلې څرګندوي چې رسول الله ﷺ د حدیبیې د سولې له تړون وروسته، د مشرکینو له عهد ماتې سره په لوړ سیاسي تدبیر مکه پرته له بې‌ځایه وینې تویولو فتح کړه. د هغه نرم‌خوي، دښمن ته عفو، د مظلوم ملاتړ او د امت یووالي ته ژمنتیا د اسلامي سیاست هغه واقعي بنسټونه دي چې د عدالت، حکمت او انسانیت پر محور ولاړ دي.



**کلیدي کلمې:** د مکې فتحه، بصیرت، سیاسي پالیسي، عفوه، زغم، د امت یووالی، عدالت.



دعوت مجله علمی تحقیقی

سال ششم، بهار و تابستان ۱۴۰٤هـ ش

شماره مسلسل ۱۲

REG code: RCTD - PNJR- 00+12-22

ACRED code: RCTD- PNJA+00-4-23



**پوهنیار خالد سراج**

عضو کادر علمی پوهنځی حقوق و علوم سیاسی پوهنتون دعوت

Khalidsaraj271@gmail.com



دریافت مقاله: ۱۴۰٤/۰۱/۳۱

پذیرش مقاله: ۱۴۰٤/۰٦/۲۱

www.dawat.edu.af

Journal@dawat.edu.af

**Abstract**

The conquest of Mecca was one of the most considerable political events in Islam history.

It reflects the prophet's strong political awareness, wisdom, and executable leadership.

This study examines the political approach of the prophet (pbuh) with a focus on bounty, justice, social solidity, and solidarity of the Muslim community. The main purpose of this research is to analyze the prophet's political policy during the conquest of Mecca in brightness of the basic origin of Islamic political notion that remain dependent in temporary context. The research pursues a descriptive and analytical methodology and is based on credible historical sources, classic works of prophet's biography (Sirah), and guidance from the Quran.

The finding demonstrates that after the treaty of Hudaybiyya was fractured, the prophet (pbuh) through careful political planning and wise-decision, entered Mecca moderately and avoided unnecessary violence. His mercy toward former enemies, support for justice, and commitment to the solidarity of the Muslim society highlight the fundamental values of Islamic political notion. Which are grounded in justice, wisdom, and respect for human dignity.

**Keywords**: The conquest of Mecca, insight, political policy, forgiveness, tolerance, unity of the Ummah, justice.

# Dawat
## Academic Journal

Sixth Year, Issue 1
(Fall & Winter 2025)

Volume 12

Received: 2025-04-20
Accepted: 2025-09-12

www.dawat.edu.af
Journal@dawat.edu.af

**سریزه**

د هجرت په اتم کال، د مؤته غزا له پای ته رسېدو وروسته، د مکې مشرکین یو ځل بیا د خپلې پخوانۍ دښمنۍ په احساس را وپارېدل او پرېکړه یې وکړه چې د رسول الله ﷺ له همپیمانې قبیلې «خزاعه» څخه د جاهلیت د زمانې غچ واخلي. دا پرېکړه په داسې حال کې وشوه چې د حدیبیې د سولې تړون د مسلمانانو او قریشو ترمنځ د لس کلن اوربند پر اساس ټینګ شوی و، خو د مکې مشرکینو د بنو بکر له قبیلې سره په ګډه دغه تړون په ښکاره مات کړ او پر خزاعه قبیلې یې برید ترسره کړ، تر دې چې آن د حرم په سیمه کې یې هم بېګناه کسان ووژل. دا کړنه د سولې د تړون څرګنده سرغړونه وه او د ظلم او تېري روښانه بېلګه ګڼل کېده، چې همدا پېښه د مکې د فتحې د پیل سبب و او د دې څېړنې لومړنی بحث یې جوړ کړ. کله چې نبي کریم ﷺ د خزاعه پر وړاندې د دې ظلم خبر واخیست، نو په ژور سیاسي بصیرت، حکمت او رهبري سره یې پرېکړه وکړه چې د تړون ماتوونکو ته د عدالت درس ورکړي او د خپلو همپیمانانو ملاتړ وکړي. آنحضرت ﷺ د دقیقو سیاسي تدابیرو، پټ او منظم پوځي تیارۍ، او د لس زره کسیز پوځ د مناسب تنظیم په مرسته وکولای شول چې د قریشو له غفلت او داخلي کمزورتیا څخه په سمه توګه ګټه واخلي او مکه مکرمه پرته له جګړې او بېځایه وینې تویېدنې څخه فتحه کړي. د اسلامي پوځ دغه ستراتیژیک تیارۍ او د مکې پر لور د پوځ خوځښت د دې څېړنې بل مهم محور دی.

مکې ته د رسول الله ﷺ د بریالي ننوتلو ورځ نه یوازې د یوې سترې نظامي کامیابۍ ورځ وه، بلکې د اسلامي سیاست، زغم، عدالت، معافیت او اخلاقو د لوړ معیار څرګندونه یې هم کوله. د عامې بخښنې اعلان، تاریخي خطبه، د خلکو او د مقدساتو ساتنه، د حق راتګ او د باطل له منځه تګ، او د مکې د فتحې ټولنیزې او سیاسي اغېزې هغه مهمې صحنې وې چې د اسلامي رهبرۍ د سیاسي او اخلاقي عظمت څرګندونه کوي.

د مکې د فتحې پېښه د اسلامي امت په تاریخ کې د یو بنسټیز سیاسي تحول حیثیت لري. دا څېړنه د همدې مسألې تحلیل کوي چې څنګه د نبي کریم ﷺ سیاسي بصیرت یو سخت

نظامي حالت د سولې، عدالت او یووالي پر فضا بدل کړ او د اسلامي سیاست د عدالت‌محورې فلسفې عملي بڼه وړاندې کړه.

د څېړنې موخه دا ده چې د مکې د فتحې پېښې په رڼا کې د رسول الله ﷺ د سیاسي بصیرت او حکمت بنسټونه وڅېړل شي، د هغه د سیاست د نرم‌خوايي او عدالت فلسفه تشریح شي، او څرګنده شي چې د نبوي سیاست تګلاره د اسلامي امت د ثبات، یووالي او سولې لپاره څه اهمیت لري.

**د څېړنې اصلي پوښتنه داده:**

د مکې د فتحې پېښه څنګه د رسول الله ﷺ د سیاسي بصیرت، عدالت او د اسلامي سیاست د بنسټونو څرګند انځور وړاندې کوي؟

د دې اصلي پوښتنې د تکمیل لپاره فرعي پوښتنې دا دي: د مکې فتحه د نبي ﷺ د دقیقو سیاسي تدابیرو او پوځي تیاریو څرنګوالی څنګه څرګندوي؟ د عامې بخښنې اعلان، د خلکو او مقدساتو ساتنه څنګه د اسلامي سیاست او اخلاقي اصولو څرګندونه کوي؟ د مکې فتحه د اسلامي امت د یووالي، سولې او عدالت د تثبیت په برخه کې **څه اهمیت لري؟**

د څېړنې اهمیت په دې کې دی چې د نبوي سیاسي بصیرت له تحلیل سره د اسلامي سیاست د بنسټیزو اصولو عملي اړخ څرګندېږي. دا څېړنه د سولې، عدالت او اخوت د اسلامي مفکورې د بنسټونو وضاحت کوي او د معاصر اسلامي سیاست لپاره یو نظري او تطبیقي چوکاټ وړاندې کوي.

د څېړنې طریقه د توصیفي او تحلیلي میتود پر بنسټ ده، چې په دې کې د سیرت نبوي، قرآني لارښوونو، تاریخي منابعو او معتبرو علمي اثارو څخه استفاده شوې، ترڅو د مکې د فتحې د پېښې هغه سیاسي او اخلاقي تدابیر روښانه کړي چې د سولې، عدالت او د امت د یووالي سبب شول.

د څېړنې لاسته راوړنې څرګندوي چې د مکې فتحه د رسول الله ﷺ د ژور سیاسي بصیرت، حکمت، زغم او نرم‌خوايي څرګنده بېلګه ده. د نبي ﷺ د عفوې سیاست، دښمن ته د رحم چلند، د مظلوم ملاتړ، او د اسلامي امت د یووالي د تأمین لپاره عملي تدابیر د اسلامي

سیاست د اصولو څرګند تعقیب دي. دا پېښه ثابته کړه چې د نبوي سیاست بنسټ پر عدالت، شفقت، سولې او د امت د فکري یووالي ساتنه ولاړ دی، او بې‌ځایه وینه تویېدنه یې نه منله

**د څېړنې شالید او مخینه**

د مکې فتحه د اسلامي تاریخ یوه داسې مهمه پېښه ده چې د سیاسي بصیرت، عفوې، او د امت د یووالي یو بې‌ساری درس وړاندې کوي. د دې پېښې د فلسفې او سیاسي ابعادو په اړه بېلابېلې لیکنې شوي دي، خو د ژورې علمي څېړنې له پلوه د یوې منظمې، تحلیلي او علمي مقالې بڼه یې ډېره لږ لیدل شوې ده. تر ډېره هغه آثار چې د مکې د فتحې په اړه لیکل شوي، یا خو تاریخي بیان ته محدود پاتې دي او یا یې یوازې د سیرت اړخ څېړلی، خو د سیاسي بصیرت، د حکمت د تطبیقي اړخ او د نبوي سیاست د عدالت‌محورې فلسفې علمي تحلیل یې نه دی کړی، چې ډېرې بېلګې یې زموږ پر وړاندې شته.

دا څېړنه له هغو کارونو سره توپیر لري چې یواځې تاریخي روایتونه رانقلوي؛ دلته تمرکز پر دې دی چې د رسول الله ﷺ سیاسي درایت د یو بحران څخه څنګه د سولې، ثبات او د امت د یووالي لامل شو. په دې توګه دا مقاله د اسلامي سیاست په برخه کې یو نوی علمي دریځ وړاندې کوي چې د مکې د فتحې د پېښې تحلیل د سیاسي لیدلوري له مخې کوي، نه یوازې د روایت‌محور تاریخ له زاویې. دغه څېړنه هڅه کوي د نبوي سیاست هغه بنسټونه را وښیي چې د معاصر اسلامي سیاست لپاره هم د لارښود حیثیت لري.

د دې څېړنې مثبت ټکي په دې کې دي چې د سیرت نبوي د یوې تاریخي پېښې تحلیل یې د معاصر سیاست، مدیریت او رهبرۍ له علمي اصولو سره نښلولی؛ همدارنګه یې د عدالت، زغم، او د دښمن د عفوې فلسفه د اسلامي سیاست د بنسټ په توګه څېړلې ده. له همدې امله دا څېړنه هم تاریخي اهمیت لري او هم د اسلامي سیاست په علمي تفسیر کې یوه نوې علمي کړکۍ پرانیزي.

**لومړۍ مبحث: د مکې مکرمې د فتحې د پیل سیاسي او تاریخي اړخونه**

**لومړۍ مطلب: د مکې د فتحې د پیل سبب**

کله چې رسول الله ﷺ د خپل سیاسي بصیرت او حکمت له مخې د مکې مشرکینو سره د هجرت په شپږم کال د حدیبیې په سیمه کې یوه هراړخیزه سوله(د حدیبیې سوله) ترسره کړه، وروسته له هغې ډېرې بریاوې او لاسته راوړنې د مسلمانانو په برخه شوې او د اسلام مبارک دین ورځ تر بلې نفوذ او پراختیا موندله، آن تر دې چې دغه وسعت د مدینې شمال لوري ته تر عراق او شام پورې ورسېد او د مکې مکرمې له مشرکینو پرته بل داسې ځواک او قوت نه و چې د اسلامي دولت پر وړاندې ودرېږي او مبارزه وکړي. مکه مکرمه په دې سبب د اسلامي دولت په قلمرو کې نه راتله چې مسلمانانو د رسول الله ﷺ په مشرۍ د مکې مشرکینو سره د سولې یو تړون لاسلیک کړی و او همدغه تړون د دې سبب او مانعلیه السلامګرځېدلی و چې مسلمانان فی الحال مکه مکرمه خپل تصرف لاندې را نه ولي، خو کله چې د مکې د مشرکینو او بنوبکر قبیلې له لورې د حدیبیې د سولې تړون مات او نقض شو، نو مسلمانانو ته فرصت په لاس ورغی او د دې زمینه ورته مساعده شوه، ترڅو مکه مکرمه هم د اسلامي دولت تر چتر او قلمرو لاندې راولي.(ابن کثیر، ۱۹۸۷: ۳۱۴)

**دویم مطلب: د قریشو له لوري د تړون ماتېدل**

کله چې د حدیبیې د سولې تړون ترسره شو، له مخې یې د بنوبکر قبیله د مکې د مشرکینو او د بنوخزاعه قبیله د رسول الله ﷺ ملګرې شوه، او دغه دواړه قبیلې چې له پخوا ځینې یې یو بل سره دښمني درلوده، د یادې سولې پر بنست وتړل شوې او نور یې نه شوی کولی چې پر یو بل بریدونه وکړي.

د دې دواړو قبیلو(بنوبکر - بنوخزاعه) ترمنځ چې کومه دښمني وه، هغه زړه او د اسلام د مبارک دین له راتګ څخه مخکنۍ وه، په اړه یې څېړونکي او مؤرخین داسې بیان کوي:

د اسلام له راتګ څخه پخوا د «بني الحضرمي» د سیمې یو سړی چې «مالک بن عباد» نومېده، د بنوبکرو د یو سردار«اسود بن رزن» سره همغږی(د تړون ملګری) و. نوموړي اراده وکړه چې د سوداګرۍ لپاره ووځي، کله چې ووت او د بنوخزاعه وو د ځمکې منځنۍ برخې

ته ورسېد، د خزاعه قبیلې له لوري ووژل شول او مال يې هم ورته لوټ کړ. څنګه چې نوموړی شخص(مالک بن عباد) بنوبکرو سره په تړون کې شريک و، نو له همدې امله د بنوبکر قبيلې د هغه په بدل کې د خزاعه قبيلې يو سړی وواژه . له دې پېښې وروسته بيا خزاعه قبيله مجبوره شوه چې د خپل سړي غچ واخلي، نو هماغه و چې د «اسود بن رزن» دري زامن چې د «بني کنانه وو» ډېر درانه او دعزت خاوندان وو، ووژل. دا هغه مهال و چې د بنوبکر قبيلې لا خپل غچ د خزاعه قبيلې څخه نه و اخيستی چې د اسلام د مبارک دين ځلېدونکې لمر د مکې مکرمې له غرونو سر را پورته کړ، تبليغ يې پيل شو او بيا ټولو کفارو يې پر وړاندې هر اړخيزه مبارزه پيل کړه، تر څو چې د هجرت په شپږم کال د حديبيې د سولې تړون د رسول الله ﷺ او د مکې د مشرکينو ترمنځ لاسليک شو او دغه دوه قبيلو څخه يوه د مکې د مشرکينو او بله د رسول الله ﷺ ترڅنګ و دربدله او دواړه د حديبيې د سولې په تړون کې شاملې شوې او د نوموړي تړون له مخې يې نور نه شوی کولی چې زړه دښمني سره وپالي.(محب، ۱۳۹۰: ۳۳۸)

خو کله چې د هجرت اتم کال را ورسېد، د ياد کال د شعبان په مياشت کې يوه حيرانوونکې پېښه منځته راغله، هغه داسې چې د بنوبکر قبيلې نيت وران شو، د سولې ياد تړون يې يو ښه فرصت وباله او د قبيلې سردار(نوفل بن معاويه) يې وغوښتل چې د خزاعه له قبيلې خپل غچ واخلي. دغه مهال د مکې قريشو ته لازمه وه چې هغوی خپل دوستان(بنوبکر) له دې کړنې منعليه السلامکړي، خو برعکس هغوی له بنوبکر قبيلې سره د وسلو او نورو مهمو تجهيزاتو همکاري وکړه او آن تر دې چې ځينو قريشو لکه، صفوان بن اميه، عکرمة بن ابوجهل، سهيل بن عمرو او نورو ورسره په نوموړي بريد کې ګډون وکړ. بنوبکرو د قريشو په همکارۍ دغه بريد داسې مهال ترسره کړ چې شپه وه او د خزاعه قبيلې ټول خلک په درانه خوب ويده وو. د خزاعه قبيلې چې د بنوبکرو دغه ډول ناڅاپي بريد وليد، ناتوانه شول او دا يې ښه وګڼله چې حرم ته پناه يوسي، خو هغوی حرم کې هم آرام ته پرېښنبودل. (ابن هشام، ۱۹۹۷: ۱۳۷)

د دغه ناوړه جنګ په وروستیو کې د بنوبکر قبیلې خپل مشر او سردار(نوفل) ته وویل چې نور بس کړه، د حرم سیمه ده، خو د جګړې د بریا جذبې او احساساتو د هغه سترګې ړندې او غوږونه کاڼه کړي وو، له خولې یې یوه بده او ناکاره خبره ووېسته، ویې ویل، چې نن دلته ته هېڅ خدای نه شته. ای د بنوبکر قبیلې! مخکې شئ او خپل غچ او انتقام واخلئ. زیاته یې کړه، تاسو چې حرم کې غلاوې کوئ آیا خپل غچ او انتقام دلته نه اخلئ؟ په دې ډول د بنوبکر قبیلې د خپل مشر په خوله او أمر د سولې د تړون موارد مات کړل او هم یې د حرم په حدودو کې ښکاره تېری او ظلم د خزاعه په قبیلې وکړ او خلک یې ورته په حرم کې په دېرې بې رحمۍ او ظلم سره ووژل. (محب، ۱۳۹۰: ۳۳۹)

په یاده ناڅاپي جګړه او شبخون کې د خزاعه قبیلې شل یا دېرش تنه ووژل شول. دغه مهال د خزاعه قبیلې دوه تنه(بدیل بن ورقه - عمرو بن سالم) له څو نور کسانو سره یو ځای د مدینې پر لور روان شول چې رسول الله ﷺ له یادې بدې پېښې خبر کړي او د بنوبکر د قبیلې او د قریشو له غدر، خیانت او د سولې د تړون له ماتولو څخه یې خبر کړي. (ابن هشام، ۱۹۹۷: ۱۳۸)

کله چې رسول الله ﷺ له یادې پېښې خبر شو، قریشو ته یې پیغام واستوه چې دوی دې د سولې د تړون د مادو پر بنسټ د خزاعه قبیلې خلکو ته دیت ورکړي او یا دې خپل مجرمان د قصاص لپاره دوی ته وسپاري. کله چې د مکې کبرجنو او مغروره قریشو ته د رسول الله ﷺ پیغام ورسېد، له دواړو خبرو(دیت - قصاص) څخه یې سرغړونه وکړه او سوله یې ماته کړه. وروسته له دې چې د رسول الله ﷺ استازی مدینې ته ورسېد، دغه وخت بیا د قریشو مشرانو او سردارانو خپلو کې مشوره وکړه او تصمیم یې په دې ونیو چې سوله به بیا له سره نوي کړو، نو د همدې موخې لپاره یې ابوسفیان بن حرب مدینې ته واستوه. (منصور احمد، ۱۳۹۱: ۱۰۲)

علامه ندوي بیا د خزاعه قبیلې د مشر د خبر ورکونې قضیه بیا په متفاوت انداز بیانوي، هغه لیکي، عمروبن سالم(خبر ورونکی) چې کله مدینې ته د رسول الله ﷺ حضور ته ورسېد، د څو بیتونو په ویلو سره یې د هغه حلف(تړون) یادونه وکړه چې د رسول الله ﷺ او د خزاعه قبیلې ترمنځ ترسره شوی و. نوموړي مشر په خپلو خبرو کې له رسول الله ﷺ څخه د همکارۍ

غوښتنه وکړه، د مکې د قريشو د ظلم او تيري، له وعده خلافۍ او هم يې د تړون له ماتولو څخه په ټولو جزياتو خبر کړ، زياته يې کړه، پر موږ د شپې په داسې حال کې بريد وشو چې خپلو فصلونو ته مو اوبه لګولې او دغه راز د سجدې او رکوعليه السلامپه حالت کې يې موږ ووژلو. رسول الله ﷺ ورته وويل: ای عمرو بن سالم! تاسو سره همکاري شوې. (ندوی، ۱۳۹۰: ۱۳۶)

له عمرو بن سالم وروسته بديل بن ورقه هم مدينې منورې ته را ورسېد، هغه هم رسول الله ﷺ له پوره جريان او قبيلې سره يې له شوي ظلم او تيري څخه خبر کړ. رسول الله ﷺ وروسته له دې چې وضعيت درک کړ، په دې پوه شو چې د سولې تړون ماتېدل پرته له دې چې مکه مکرمه د اسلامي دولت تر قلمرو لاندې را نه وستل شي په بل څه شي نه تلاقي کېږي، نو بايد د فتحې ترتيبات ونيول شي. (الطبري، ۱۹۹۰: ۲۲۵)

کله چې رسول الله ﷺ له دې بدې پېښې چې بنوبکرو په ناځاپي ډول د خزاعه په قبيلې د مکې د مشرکينو په مرسته بريد کړی، د سولې تړون يې مات کړی او د يادې قبيلې شاوخوا شل تنه يې وژلي، سخت خفه شو او مسلمانانو ته يې دستور ورکړ چې خپل تياری ونيسي. (الصالح الشامي، ۱۹۱۴: ۵۵)

**درېيم مطلب: د قريشو له لوري د تړون د نوي کولو هڅې**

د خزاعه قبيلې د دوو تنو(عامرو - بديل ) له تګ څخه چې کله د مکې قريشو ته خبر ورسېد، نو په وېره کې شول او پرېکړه يې وکړه چې د سولې تړون يو ځل بيا تازه او محکم کړي، ځکه قريش په دې پوهېدل چې رسول الله ﷺ به د خزاعه قبيلې مرستې او همکارۍ ته ضرور مثبت ځواب ورکوي او په مکې به حمله کوي، نو هماغه و چې دغه دروند مسؤوليت يې ابوسفيان بن حرب ته وسپاره، تر څو مدينې منورې ته لاړ شي او رسول الله ﷺ سره تړون تازه کړي او د سولې موده هم وغځوي. کله چې ابوسفيان د ياد مسؤوليت او دندې لپاره له مکې نه د مدينې په لور حرکت وکړ، رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ته خبر ورکړ چې شايد ابوسفيان د قريشو له لوري دلته د تړون د تازه کولو او د سولې د نېټې د غځولو لپاره راشي. (همدانی، ۱۳۶۰: ۸۶۴)

کله چې ابوسفیان مدینې ته را ورسېد، نو لومړی د خپلې لور(ام حبیبه رضی الله عنها) کور ته ولاړ، څکه نوموړې د رسول الله ﷺ مېرمن او د مسلمانانو مور وه. د هغې پوښتنه یې وکړه او بیا یې وغوښتل چې په ځمکې په غوړېدلي فرش کېني. لور چې یې پوه شوه، ژر یې یاد فرش د پلار(ابوسفیان) له مخې پورته کړ او پرېنښود چې هغه پرې کېني. ابوسفیان ترې وپوښتل، ای لورې! د خپل پلار له مخې فرش ټولوې؟ آیا فرش دې زما وړ ونه لید او که زه دې د فرش وړ ونه لیدم؟ لور یې ځواب ورکړ، دا د رسول الله ﷺ د ناستې فرش دی او ته یو کافر او ناپاک یې. ابوسفیان په یادو خبرو سخت حیران شو او نبوي مسجد ته یې ځان د رسول الله ﷺ حضور ته ورساوه. (شرف الدین، ۱۳۸۲: ۱۶۰)

هلته په رسېدلو سره یې د خپل راتګ موخه او مقصد بیان کړ، خو رسول الله ﷺ ورته هېڅ ځواب ورنکړ. وروسته بیا ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته ولاړ، ترې ویې غوښتل چې په اړه یې رسول الله ﷺ سره وغږېږي. هغه ځواب ورکړ چې موږ هېڅ هم نه شو کولی. بیا عمر رضی الله عنه ته ولاړ، هغه ورته وویل، که زه ستا سپارښتنه رسول الله ﷺ ته وکړم، په دې معنا چې زه د جهاد سپېڅلي فریضه ترک کوم. له دې وروسته علي رضی الله عنه ته ولاړ، ورته یې وویل، ای علي! ته د قوم په سطحه د رحم درلودنکی یې، زه دلته یو ضرورت او اړتیا راوستلی یم، زه څنګه ناکام له دې ځای څخه ولاړ شم؟ زه یواځې دا غواړم چې محمد ص ته زما سپارښتنه وکړې. علي رضی الله عنهي الله عنه ورته په ځواب کې وویل، موږ دا توان نه لرو چې د رسول الله ﷺ په اراده کې مداخله وکړو. بیا ابوسفیان، فاطمې رضی الله عنها ته مخ وګرځوه، ویې ویل، ای فاطمې! ته دې زوي ته ووایه چې زما په اړه د امن سپارښتنه وکړي، هغې وویل، د رسول الله ﷺ پر وړاندې څوک هم چاته امن او ساتنه نه شي ورکولی. ابوسفیان چې ناهیلی شو، نو بیا علي رضی الله عنه ته وړاندې شو، ویې ویل، ای ابا الحسنه! خبره ستونزمنه ده، ته یوه لاره او تدبیر راته را وښایه. علي رضی الله عنهي الله عنه ورته وویل، ته د بني کنانه وو سردار یې، ته خپله د خلکو مخ کې اعلان وکړه. هغه همداسې وکړل، د علي رضی الله عنه له کوره نبوي مسجد ته راغی او د خپل امن د غوښتنې ترڅنګ یې په لوړ غږ اعلان وکړ چې زه د سولې موده اوږدوم او وعده او اقرار ټینګوم. وروسته بیا له نبوي مسجد

ځخه راووت، په اوښ سپور شو، په مات زړه او شرمېدونکي مخ يې د مکې پر لور حرکت وکړ. (محب، ۱۳۹۰: ۳۴۳)

دغه راز کله چې ابو سفیان مدینې منورې ته راورسېد، د سلمان، صهیب، بلال او ځو نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم ترڅنګ تېرېده، هغوی چې دی ولید، ويې ويل: د خدای ﷻتورې د خدای ﷻد دښمن غاړې ته لا نه دي رسېدلي. ابوبکر رضی الله عنه چې له ده سره روان و، هغوی ته يې وويل: تاسو د قريشو يو مشر او سردار ته داسې تونديې خبرې کوئ؟ کله چې بیا ابوبکر رضی الله عنه، رسول الله ﷺ ته یاد جریان تېراوه، رسول الله ﷺ ورته وويل: ای ابوبکره! شاید تا هغوی په قهر کړي وي، که هغوی خفه او په قهر شوي وي، نو تا خپل خالق خفه اوپه قهرکړی دی. وروسته بیا ابوبکر رضی الله عنه له هغو صحابه کرامو ځخه په ډېرې عاجزۍ بخښنه وغوښته. (نن ټکی اسیا، ۲۰۲۰، انټرنت)

کله چې ابوسفیان له مدینې منورې ځخه مکې مکرمې ته ورسېد، ټول قریش ترې راټول شول او په یوه خوله يې ترې وپوښتل چې څه دې وکړل؟ هغه ورته د سفر ټول جریان ووایه، د مکې قريشو هغه پورې وخندل، ورته يې وويل، علي رضی الله عنه له تاسره ټوکې کړې دي، د امن غوښتنه، د تړون تازه کول او د مودې غځول څوک په دې ډول نه کوي، په داسې حال کې چې محمد ﷺ ستا خبرو ته ځواب نه دی درکړی او چوپ پاتې شوی. ابوسفیان چې ژور فکر وکړ، نو په خپل تګ او کار سره ډېر پښېمانه شو. (ابن هشام، ۱۹۹۷: ۱۳۰)

## دویم مبحث: د فتحې لپاره د اسلامي پوځ سیاسي او نظامي تیاری

### لومړی مطلب: فتحې ته د اسلامي پوځ تیاری

دا چې رسول الله ﷺ مدینه منوره کې ابوسفیان ته د رد ځواب ورکړ او بېنوا يې پرېښود، موخه يې له دې کار ځینې دا وه چې غوښتل يې د خزاعه قبیلې د وژونکو غچ د مکې له قريشو او په ځانګړې ډول د بنوبکرو ځخه واخلي، ځکه یادو دوه ډلو يې شروط(دیت - قصاص) نه وو منلي، نو رسول الله ﷺ د خپل سیاسي بصیرت او حکمت له مخې دا غوره وګڼله چې د کفر او شرک د وروستي ځای(مکه مکرمه) خلک چې لا هم اسلام او مسلمانانو

سره دښمني پالي او لارې ته نه دي راغلي، ځای او سيمه يې د اسلامي دولت په يو ستر مرکز بدله کړي او د اسلام تر قلمرو لاندې يې راولي.

ابوسفيان چې کله مدينې منورې څخه ناهيلی راستون شو، نو بيا يې له نورو قريشو سره په مشورو پيل وکړ چې د لوی پېښېدونکي خطر پر وړاندې څه وکړي او کوم تدابير ورته ونيسي؟ ځکه دوی په دې پوه شوي وو چې رسول الله ﷺ مو همداسې نه پرېږدي او ضرور د ترسره شوي غدر او خيانت سزا راکوي. دوی لا په مشورو کې وو، چې رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ته د قريشو او مشرکينو د مقابلې لپاره د تيارسئ او آمادګی أمر وکړ. رسول الله ﷺ سره له دې چې د خدای ﷻ په نصرت او مرستې پوره باور درلود، خو بيا يې هم پوره هڅه وکړه چې د مکې قريش له خپلو تياريو ناخبره وساتي. رسول الله ﷺ نه غوښتل چې د نورو جګړو په څېر وينې تويې شي، هيله يې لرله چې د مکې قريش تسليم کړي او په آرامی شته ستونزه حل کړي. (الطبري، ۱۹۹۰: ۲۴۳)

دغه راز رسول الله ﷺ له دې پاليسی او جنګي تکتيک څخه دا موخه هم لرله چې د قريشو د نه خبرېدو ترڅنګ د بيت الله الحرام حرمت هم له منځه لاړ نه شي او ډېره مرګ ژوبله هم ونه شي. خو د صحابه کرامو له جملې څخه يو تن چې«حاطب بن ابي بلتعه» نومېده، د رسول الله ﷺ له ټينګار او ترکيز سربېره يې په پټه مکې(کلي) ته يو ليک واستوه چې قريشو ته يې د رسول الله ﷺ د نيت او ارادې په هکله معلومات په کې ليکلي و. په دې وخت کې خدای ﷻ خپل نازولي پيغمبر ته وحی وکړه او له نوموړې پېښې څخه يې خبر کړ. رسول الله ﷺ ځينې صحابه کرام د علي رضی الله عنهي الله عنه په مشری د ليک وړونکې مېرمنې د مخه نيولو او د ليک د اخيستلو لپاره واستول. هغوی له يادې مېرمنې سره ليک پيداکړ او بيا رسول الله ﷺ خپل ملګری(حاطب) راوغوښت او د کړي کار پوښتنه يې ځينې وکړه. هغه وويل، ای د الله رسوله! په خدای ﷻ قسم چې زه په الله ج او د هغه په را استول شوي رسول پوره ايمان لرم، دين مې نه دی بدل کړی، خو زه يو بې بېخه سړی وم، په قوم کې مې څه اثر او رسوخ نه درلود او هلته د قريشو په منځ کې زما اهل او اولاد و، نو د هغوی په خاطر مې دا کار وکړ، په دې وخت کې عمر رضی الله عنه عنه وويل: ای د الله رسوله! اجازه راکړه چې

سر یې پرې کړم، ځکه دی منافق شوی. رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هغه په بدر کې برخه اخیستي، ته څه خبر یې چې ټولو بدري غازیانو ته بخښنه شوې؟. (سباعي، ۱۳۶۹: ۱۵۹)

**دویم مطلب: د مکې مکرمې پر لور روانېدل**

رسول الله ﷺ وروسته له دې چې مسلمانانو ته د امادګی امر وکړ، په لوموړیو کې یې دغه خبر پټ وساته، وروسته یې اعلان وکړ چې دمکې مکرمې په لور د تګ اراده لري او هم یې دعا وکړه چې خدایه د قریشو څارګر (جاسوسان) واخله، ترڅو موږ په ناڅاپي ډول پرته له دې چې هغوی خبر شي مکې ته ورسېږو او مکه تر خپلې کلابندی لاندې راولو.

رسول الله ﷺ د هجرت په اتم کال د روژې په میاشت کې خپل لس زره کسیز پوځ سره یوځای له مدینې څخه د مکې پر لور روان شو، پرمخ ولاړ، تر دې چې «مر الظهران» سیمه کې یې پړاو واچوه. خدای ﷻ د قریشو څخه د اسلامي لښکر خبر پټ وساته او قریش د وېرې او انتظار په حالت کې وو. (ندوي، ۱۳۹۰: ۱۳۸)

مخکې له دې چې رسول الله ﷺ (مر الظهران) سیمې ته ورسېږي، په لاره کې یې مخې ته عباس رضی الله عنهي الله عنه سره له کورنۍ مخې ته راغی، رسول الله ﷺ یې کورنۍ مدینې ته واستوله او خپل تره (عباس رضی الله عنه) یې له ځان سره ستون کړ. کله چې اسلامي لښکر مر الظهران درې ته ماښام مهال ورسېد، رسېدلو سره یې پړاو واچوه او خیمې یې ووهلې. د شپې په تیاره کې د شپنو له لوري مکې ته خبر ورسېد چې یاده دره کې یو ستر لښکر خیمې وهلي دي. د دې خبر په اورېدلو سره ابوسفیان د حالاتو د څېړنې لپاره چې بدیل بن ورقا او حکیم خزاعي هم ورسره وو، راووت. عمر رضی الله عنه مؤظف و چې له یو شمېر مجاهدینو سره ګزمه وکړي. عباس رضی الله عنهي الله عنه په دې نیت چې د قریشو له یو مشر سره وګوري له لښکره راووت. د لښکر په لیدلو سره ابوسفیان حیران شو او فکر یې کاوه چې دومره ستر لښکر له کومې خوا راغی. د شپې په تیاره کې عباس رضی الله عنه د ابوسفیان غږ وپېژنده، ځواب یې ورکړ چې یاد لښکر د محمد ص دی او اراده لري چې سهار مهال په مکه برید وکړي.

ابوسفیان وپوښتل چې اوس څه کول په کار دي؟ عباس رضی الله عنه ځواب ورکړ چې ته ما پسې په کچره سپور شه، زه دې رسول الله ﷺ ته ورولم. لاره کې دواړه له عمر رضی الله عنه سره هم مخامخ شول او بیا د رسوالله ﷺ په حضور کې عباس رضی الله عنه امن ورکړ. (ابن هشام، ۱۹۹۷: ۱۴۰)

د عباس رضی الله عنه له آمان ورکولو وروسته ﷺ امر وکړ چې ابوسفیان ته یوه شپه وخت ورکړئ، هماغه و چې عباس رضی الله عنهي الله عنهی الله عنه ابوسفیان په خپله خیمه کې یوه شپه وساته او سهار ته بیا د اسلام په مبارک دین مشرف شو. (ابن هشام، ۱۹۹۷: ۱۴۳)

دغه راز علامه ندوي لیکي، رسول الله ﷺ مکې ته په رسېدلو سره د امن او بخښنې حلقه پراخه کړه، ترڅو د مکې ټول وګړي په امن کې شي او له مرګ څخه نجات ومومي. نو ملګرو ته یې حکم وکړ چې مکې ته د ننوتلو په وخت کې به اسلحه نه استعمالوئ، یواځې د هغو په خلاف توره له تیکې را وباسئ چې مقاومت کوي. أمر یې وکړ چې د مکې د اوسیدونکو مالونه او ملکیتونه ته لاس هم ورنړدې نه کړئ او ځانونه ترې لرې وساتئ.

همدارنګه عباس رضی الله عنه ته یې وویل چې ابوسفیان په داسې لوړ ځای کې کېنوه چې ترمخه یې اسلامي پوځ تېرېږي او دی یې ویني. کله چې د فاتح لښکر کنډکونه د سمندر د موج وهونکو څپو په څېر په حرکت راغلل او ټولې قبیلې له خپلو بیرغونو سره تېرېدې، نو ابوسفیان به یې له عباس رضی الله عنه نه په اړه پوښتل، تر دې چې یوه ډلګی د مهاجرینو او انصارو څخه جوړه شوې وه او یواځې سترګې یې له اوسپنیز لباس څخه ښکارېدې، را ورسېده، ابوسفیان وویل: سبحان الله، ای ابوالفضل دا څوک دي؟ هغه وویل، دا رسول الله ﷺ دی چې د مهاجرینو او انصارو لښکر ورسره دی. ابوسفیان وویل، هېڅوک د دې لښکرو دمقابلې توان نه لري. سوګند په الله ج ، د ورا‌ره پاچاهي دې ډېره لویه شوه. عباس رضی الله عنه په ځواب کې ورته وویل، پاچاهي نه ده، نبوت دی. هغه وویل دا خو لا ډېره ښه ده. (ندوي، ۱۳۹۰: ۱۴۰)

د ابوسفیان له ایمان راوړلو وروسته عباس رضی الله عنه، رسول الله ﷺ ته وویل، ابوسفیان فخر خوښوي، څه شی ورکړه چې فخر پرې وکړي. رسول الله ﷺ وفرمایل، څوک چې د

ابوسفیان کور ته ننوت، هغه په امن دی. پای کې اسلامي لښکر مکې ته ورسېد او رسول الله ﷺ عمومي اعلان وکړ، ویې ویل: «څوک چې خپل کور ته ننوت، هغه په امن دی. څوک چې مسجد ته ننوت هغه هم په امن دی او که څوک د ابوسفیان کور ته ننوت هغه هم په امن دی». (ابن شبه نمیري، ۱۳۳۷: ۵۳)

له دې پرېکړې رسول الله ﷺ هغه (۱۵) کسان چې د اسلام په حق کې یې ډېر زیاتی کړی و، مستثنی وبلل او بیا له ابوسفیان سره یوځای اسلامي لښکر د رسول الله ﷺ په مشرۍ چې پوځ یې په څلورو برخو وېشلی و، له څلورو لورو څخه مکې مکرمې ته ننوتل. په دغو څلورو لورو کې یواځې یو لورۍ د دښمن معمولي ټکر سره مخامخ شو، د کومو مخالفینو مشري چې خالدبن ولید کوله، له لږ مقاومت کولو څخه وروسته هغوی هم وټکول شول او له سیمې یې تېښته وکړه. (شرف الدین، ۱۳۸۲: ۴۲)

رسول الله ﷺ په داسې حالت کې مکې ته داخل شو چې له ډېرې خاکسارۍ او عاجزۍ څخه یې سر مبارک په دې اندازه ښکته نیولی و، آن نږدې وه چې سر یې د سورلۍ په شا ولګېږي. کله چې مکې ته ننوت. نو د عدل، مساوات، برابرۍ، تواضعلیه السلاماو عاجزۍ ټول شعائر یې قایم کړل. رسول الله ﷺ، اسامه بن زید رضی الله عنه په داسې حال کې ځان پسې په سورلۍ سپور کړی و چې د بنو هاشمو او قریشو د اشرافو زامن ښه ډېر زیات وو. دا د هجرت اتم کال د رمضان د مبارکې میاشتې شلمه نېټه او د جمعې مبارکې ورځې سهار و، کومې ورځې کې چې رسول الله ﷺ فاتح مکې ته ننوت. (ندوي، ۱۳۹۰: ۱۴۱)

کله چې رسول الله ﷺ مکې ته ننوت، پیل کې یې اوه ځلې له خپلې اوښې سره د کعبې شریفې طواف وکړ. کله چې له طواف څخه فارغ شو، بیا یې له عثمان بن طلحه څخه د کعبې کیلي واخیستله او د کعبې دروازه یې پرانیستله. دا چې هغه مهال په کعبه کې شاوخوا (۳۶۰) بوتان وو او لوی بت یې «هبل» و، ټول یې له منځه وېوړل او بیا یې کعبه شریفه له سره تر پایه په پاکو اوبو ومینځله. له دوه رکعتونو وروسته د کعبې مبارکې دروازې ته ودرېد او په داسې حال کې یې یوه جامعلیه السلاماو هراړخیزه خطبه حاضرینو ته واوروله چې د مکې مشرکین

ټول د انتظار په حال کې وو چې رسول الله ﷺ به اوس څه ورسره کوي؟. (ابن کثیر، ۱۹۸۷: ۳۱۳)

**درېیم مبحث: د فتحې په ورځ رهبري، بخښنه او د اسلام بریا**

**لومړي مطلب: د عامې بخښنې اعلان او تاریخي خطبه**

کله چې یو تن د رسول الله ﷺ سیرت او تاریخ ته نظر وکړي، په یاد تاریخ او ژوند کې د رسوالله ﷺ سیاسي بصیرت، حکمت او د مکې د مشرکینو په مقابل کې یې انسان، سالمې پالیسۍ او عدل ته هک حیران شي. لکه څنګه چې پورته بحث کې ورته اشاره وشوه، رسول الله ﷺ قدم په قدم، په ډېر احتیاط او په ماهرانه ډول د فتحې په ورځ پر مخ ولاړ، دا ځکه چې نه یې غوښتل وینه تویې کړي او د چا عزت النفس پایمال کړي. په داسې یو حساسه ورځ چې ټول مشرکین د خپلو جرمونو او کړنو د سزا په طمعلیه السلامو، رحمت للعالمین د خپلې هر اړخیزې او جامعلیه السلامخطبې په ترځ کې د ټولو سوالونه حل کړل.

د یادې تاریخي خطبې په تړاو علامه ندوي لیکلي، رسول الله ﷺ په داسې حال کې چې ټولو قریشو یې انتظار وېست او په صفونو کې ولاړ وو، په لوړ غږ وویل: نشته دی دعبادت لایق پرته له خدای ﷻ څخه، هغه ذات چې هېڅ شریک نه لري. هغه رب ج چې خپل رښتیني بنده سره یې خپله وعده پوره کړه، مرسته یې ورسره وکړه او ډلو ته یې ماتې ورکړه. خبردار د جاهلیت د زمانې هره د افتخار خبره، کار، مال او وینه زما دپښو لاندې شوه او باطل بې اعتباره شو. ویې ویل، د جاهلیت له کارونوڅخه به یواځې د بیت الله خدمت او حاجیانو ته به د اوبو ورکړه پر خپل ځای پاتې وي. زیاته یې کړه، ای قریشو! خدای ﷻتاسې څخه د جاهلیت تکبر او د پلرونو بېځایه تعظیم لرې کړ. ټول خلک د آدم علیه السلاماولاد دي او آدم علیه السلامله خاورې څخه پیدا شوی دی. بیا یې وفرمایل، د خدای ﷻپه وړاندې ډېر عزتمند هغه دی چې خدای ﷻڅخه ډېر وېرېږي او تقوا لري. (ندوي، ۱۳۹۰: ۱۴۵)

بیا رسول الله ﷺ له وېرېدلو قریشو وپوښتل، ای قریشو څه فکر کوئ چې زه به څه درسره وکړم؟ هغوی وویل: ضرور به ښه راسره کوې. ته زموږ کریم ورور او کریم وراره یې. رسول الله ﷺ وفرمایل، زه نن تاسو ته هغه څه وایم، کوم چې زما ورور یوسف علیه السلام

مخکې ویلي وو: «لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ ۖ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ ۖ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ». (یوسف: ۹۲)

ژباړه: (نن ورځ پر تاسې کومه پړه نشته، الله ج دې تاسې ته بخښنه وکړي، هغه تر ټولو ډېر رحم کوونکی دی، ځئ ازاد یاستئ.). (ابن شبه نمیري، ۱۳۳۷: ۵۵)

بیا رسول الله ﷺ بلال رضی الله عنه ته أمر وکړ چې د کعبې شریفې سرته پورته شي او آذان وکړي، کله چې بلال رضی الله عنه آذان کوه، د قریشو سردارانو او مشرانو اورېدل چې د خدای ﷻ کلمه پورته کېدله. وروسته له دې رسول الله ﷺ د ابوطالب د لور(امهاني) کور ته ولاړ، غسل یې وکړ او د فتحې په مناسبت یې اته رکعته د شکرانې لمونځ اداء کړ.(ندوي، ۱۳۹۰: ۱۴۶)

کله چې رسول الله ﷺ له خطبې فارغ شو، د صفا پر غره کېناست او له خلکو یې د بیعت په اخیستلو پیل وکړ، د سړو له بیعت نه چې وزګار شو، عمر رضی الله عنه یې له مېرمنو نه د بیعت اخیستلو لپاره وټاکه او په خپله یې د هغوی لپاره استغفار وایه.

صفوان بن امیه(هغه تن چې د مکې د فتحې په ورځ یې مسلمانانو سره نښته کړې وه) د مکې له سوبې وروسته د مرګ له وېرې د یمن پر لور وتښتېد، عمیر بن وهب رضی الله عنه چې د هغه له قوم څخه و، د رسول الله ﷺ خدمت ته حاضر شو او د صفوان لپاره یې د امان غوښتنه وکړه، ﷺ امان ورکړ او ویې بخښه. عمیر رضی الله عنه یمن ته نږدې سیمه کې صفوان را وګرځاوه ، خو هغه دوه میاشتې مهلت وغوښت، رسول الله ﷺ ورته څلور میاشتې مهلت ورکړ. همدا حال د عکرمه بن ابي جهل هم و، رسول الله ﷺ هغه هم وبخښه. دوی دواړه(صفوان ـ عکرمه) بیا د حنین له غزا نه وروسته په خپله خوښه مسلمانان شول.(ابن هشام، ۱۹۹۷: ۱۲۳)

دغه راز د مکې د فتحې په ورځ یوه بله پېښه هم منځته راغله، هغه داسې چې د بنومخزوم د قبیلې یوې مېرمنې چې فاطمه نومېده، ترې غلا وشوه. د یادې قبیلې سپین ږیرې او مشران (اسامه بن زید رضی الله عنهي الله عنه) ته په دې سبب ورغلل چې رسول الله ﷺ یې ډېر خاطر کوي، ترڅو د فاطمې شفاعت(سپارښتنه) وکړي او حد پرې جاري نه کړي. کله چې

رسول الله ﷺ له جریانه د اسامه رضی الله عنهي الله عنه له خولې خبر شو، د مبارک مخ رنګ يې تغيير شو، ويې ويل: آيا د خدای ﷻ په اړه سپارښتنه کوې؟ اسامه رضی الله عنه وضعيت درک کړ، ژر يې وويل: ای د الله رسوله! ما ته بخښنه وکړه. بيا رسول الله ﷺ د حمد او ثنا څخه وروسته وويل، له تاسې څخه مخکې خلک په دې سبب هلاک او تباه شوي چې شريف سړي به په کې غلا کوله، هغه به پرېښودل کېده او چې کمزوري به غلا وکړه، په هغه به يې حد جاري کوه. قسم په هغه ذات چې د محمد ﷺ لور(فاطمه) هم غلا وکړي، لاس به يې پرې کړم. هماغه و چې وروسته د رسول الله ﷺ په أمر د هغې مېرمنې لاس پرې شو او توبه يې ووېسته. (ندوي، ۱۳۹۰: ۱۴۷)

همدارنګه رسول الله ﷺ د فتحې په دويمه ورځ د صفا د غره په سر راټولو شويو خلکو ته يو بله خطبه هم واوروله. په دې وينا کې يې د خدای ﷻ له حمد او ثنا ويلو ورسته د حرم په ارزښت خبرې وکړې، ويې ويل: خدای ﷻ مکه مکرمه هغه وخت حرم وګرځوله چې ځمکه او آسمان يې پيداکړ. دا ځای خدای ﷻ حرم ګرځولی له همدې کبله حرم دی او تر قيامته پورې به حرم وي. که څوک په خدای ﷻ او د قيامت په ورځ ايمان لري، دلته به وينه نه تويوي، د دې ځای ونې به نه وهي او دلته به د قتل او قتال مرتکب نه ګرځي. بيا يې وويل دا خبر دې حاضرين غير حاضرو ته ورسوي. (محب، ۱۳۹۱: ۳۶۴)

ځينې روايتونو کې راځي چې دلته انصارو سره شک پيدا شو چې رسول الله ﷺ نور نه غواړي چې مدينې ته لاړ شي، ځکه هغوی فکر کاوه چې مکه مکرمه د رسول الله ﷺ د پيدايښت ځای دی او اوس يې مکه فتحه کړې، نو په ډېر ادب او حيا سره يې پوښتنه وکړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل، معاذ الله(په الله ﷻ پناه غواړم)، (المحيا محياکم والممات مماتکم) يعنې زما ژوند او مرګ به له تاسو سره وي. (ندوي، ۱۳۹۰: ۱۴۸)

**دويم مطلب: د حق راتګ او د باطل له منځه تلل**

موږ په دې ايمان او پوره باور لرو چې رسول الله ﷺ د خدای ﷻ هغه سپېڅلی استازی او حق نبي دی چې له بعثت څخه يې تر رحلته د ژوند ټوله مبارزه حق سره په ملګرتيا او د باطل پر وړاندې په دربدلو څرخېدله. همدغه سبب و چې د مکې په فتحې سره يې وکولای شول

چې د باطل جرړې د خدای ﷻ په مرسته او په خپل سیاسي بصیرت او حکمت سره له بېخه وباسي. خلکو ته رڼايي راولي، بوت پرستي ختمه کړي او د تورو تیارو تور ټغر د مکې مکرمې له پاکې ځمکې ټول کړي.

کله چې رسول الله ﷺ د مکې له فتحې فارغ شو، خلکو ته یې اعلان وکړ، چې څوک نوي مسلمانان شوي، هغوی دې په خپلو کورونو کې یو بت هم نه پرېږدي او بیا یې د همدغې موخې لپاره د مکې په شاوخوا کې د مشهورو بوتانو د ماتولو او دبت خانو د ورانولو په خاطر واړه - واړه ګروپونه واستول. خالد بن ولید رضی الله عنه چې د اسلام یې لا ډېر وخت نه و شوی، دېرشو تنو سره د بنوکنانه و د (عزا) په نامه بوت او مندر چې د خرماوو په یوه باغ کې یې شتون درلود، واستوه. خالد رضی الله عنه ولاړ او یاد بت یې دړې وړې کړ، مندر یې وېجاړ او له ځمکې سره برابر کړ. (الطبري، ۱۹۱۴: ۵۶)

همدارنګه عمروبن العاص رضی الله عنه یې د (بني هذیل) قبیلې د بوت(سواع) د ماتولو او وېجاړولو لپاره واستوه. عمروبن العاص رضی الله عنه چې کله یادې سیمې ته ورسېد، د مندر مجاور ورته وویل چې ته څنګه کولی شې چې دا بوت مات کړې؟ عمروبن العاص رضی الله عنهي الله عنه ورته وویل چې ته یې ګوره! دا یې وویل، مندر ته ننوت او یاد بوت یې دړې وړې کړ. مجاور چې یاد حالت او د خپل خدای ﷻ بېوسي ولیده، له بوت نمانځنې یې توبه ووېسته او مسلمان شو. دغه رنګ حضرت سعدبن زید اشهلي رضی الله عنه یې له شلو تنو سره  د (منات) بوت ماتولو ته د (قدید) سیمې ته واستوه او یاد بت یې دړې وړې کړ او هم یو بل بوت چې د (لات) په نامه مشهور و، د اسلام د غازیانو له لوري وېجاړ شو. (ابن هشام، ۱۹۹۷: ۱۳۲)

له دې وروسته د رسول الله ﷺ له لوري ځینو قبایلو ته د اسلام مبلغین او وفدونه واستول شول.خالد رضی الله عنه یې د بنوجزیمه و په لور ولېږه. هغه د رسول الله ﷺ له لوري له جګړې منعلیه السلامکړی شوی و، خو هلته په اتفاقي ډول په جنګ کولو مجبور شو او د بنوجزیمه وو څو تنو خپل ژوند له لاسه ورکړ، د هغوی مال او وسایل چې مدینې منورې ته د رسول الله ﷺ حضور ته راوړل شول، پرې ډېر خفه شو او دیت یې بیا یادې قبیلې ته د علي

رضی الله عنهي الله عنه په لاس ور واستوه او هم يې ضايعليه السلامشوي مالونه ورکړل. نو په دې ډول مکه مکرمه او د هغې شاوخوا سيمې له بتانو او شرک څخه پاکې شوې او د اسلام مبارک دين خپلې وړانګې وغځولې. (شرف الدين، ۱۳۸۲: ۱۶۴)

**درېيم مطلب: د مکې مکرمې د فتحې اغېزې**

کله چې د مکې مکرمې ښکلی ښار او سيمه د رسول الله ﷺ په مشرۍ، هڅو او لوړ سياسي بصيرت له مخې د اسلامي پوځونو تر واک لاندې راغله، اغېز يې څرګند او ډاګيز و. د رسول الله ﷺ شفقت، مهرباني او غوره سياست و چې د مکې اکثره مشرکين يې متأثره کړل او زړونو ته يې د اسلام مبارک دين وړانګې ورننوتلې.

د مکې د فتحې اغېزې څرګندې او روښانه وې، عام خلک جوپې - جوپې راتلل او ايمان يې راوړ. د يادو خلکو د ايمان سبب يو دا و چې نور دطاغوت سلطه او واک نه و پاتې، تر دې چې آن ځينو هيله درلوده چې کاش لا وخته د اسلام په مبارک دين مشرف شوي وو. (الصالحي الشامي، ۱۹۱۴: ۵۷)

دغه راز د مکې فتحې د عربانو په نفسونو او عقلونو ژور تاثير کړی و، همدغه اغېز و، چې د ډېرو تنګې سينې د اسلام لپاره پراخه شوې او ډلې- ډلې په اسلام کې داخلېدل. همدا ډول بل سبب دا و چې ټولو عربانو دې خبرې ته د اسلام له پيل څخه انتظار وېست چې د مسلمانانو او قريشو د جنګ کومه پايله راوځي؟ دا چې مکه فتحه شوه او هم د عربو نور ځواکونه د رسول الله ﷺ پر وړاندې ښکته شول، همدې اغېزونو او د رسول الله ﷺ غوره سياسي پاليسۍ له مخې ډېرې نورې قبيلې هم په اسلام مشرفې شوې. د يادو قبيلو له جملې څخه د هوازن ثقيف، عامربن صعصعه، عبدالقيس، کنده، ازد، همدان، اشعر، مزينه، اسد، فزاره، شجع، غطفان، نجيب، هذيم، بهره، عذره، بلې، مره، غسان او د سلامان د قبيلو ټول خلک مسلمانان شول. دوی ټولو اسلام په سر او سترګو پرته له کوم جبر څخه ومنه او د ياد دين سپېڅلي پيروان شول. (منصور احمد، ۱۳۹۱: ۱۰۴)

**پایله**

د مکې مکرمې فتحه د اسلامي تاریخ یوهستره پېښه ده چې د رسول الله ﷺ د ژور سیاسي بصیرت، حکمت او سالمې پالیسۍ ځرګنده بېلګه ګڼل کېږي. دغه پېښه نه یوازې د اسلامي دولت د پراختیا او ثبات لپاره مهمه وه، بلکې د امت د یووالي، عدالت او سولې د دوام لپاره یې هم ستر بنسټ کېښود. د دې څېړنې تحلیلونه ځرګندوي چې د رسول الله ﷺ دقیق پلانونه، د حدیبیې د سولې تړون پر اصولو عمل، او د مسلمانانو لپاره د وینې تویېدنې د مخنیوي هڅې د مکې فتحې د بریا اساسي عوامل وو. د دې څېړنې په پای کې لاندې پایلې په لاس راغلې:

۱ - د مکې فتحه د رسول الله ﷺ د سیاسي بصیرت، سالمې پالیسۍ او دقیقو تدابیرو مستقیمه نتیجه وه، چې د اسلامي دولت د پراختیا لپاره ستره لاره هواره کړه.

۲ - د حدیبیې د سولې تړون د رسول الله ﷺ د صبر، استقامت او هوښیارۍ له امله عملي شو، او د همدې تړون له لارې د مکې فتحې ته لاره هواره شوه؛ که تړون نه وای لاسلیک شوی، نو د فتحې امکان به ډېر محدود و.

۳ - د فتحې له برکته مسلمانانو په سیمه کې بشپړ سیاسي او ټولنیز واک ترلاسه کړ او پرته له وینې تویېدنې یې واکمني وکړه.

۴ - د مکې مشرکینو پخوانی زور له منځه ولاړ، د مجازي خدایانو او د بتونو نفوذ له منځه لاړ، او د اسلام رڼا نورو مشرکو قبیلو ته هم ورسېده.

۵ - په کم وخت کې ډېرو خلکو د اسلام مبارک دین ته غاړه کېښوده، چې د اسلامي دولت د پراختیا او د امت د یووالي لپاره مهم بنسټ وګرځېد.

۶ - ټول یاد شوي تحولونه لومړی د خدای ﷻ په مرسته او بیا د رسول الله ﷺ د تدبیر، سیاسي بصیرت او سالمې پالیسۍ برکت و، کوم چې د اسلامي دولت لپاره ستره بریا او د خپلواکۍ بنسټ برابر کړ.

**وړاندیزونه**

د دې څېړنې له پایلو څرګنده شوه چې د رسول الله ﷺ سیاسي بصیرت، حکمت، عدل او نرم‌خوايي نه یوازې په تاریخي لحاظ مهم ارزښت لري، بلکې د معاصر اسلامي دولتونو لپاره هم د سیاست او پالیسۍ په جوړولو کې لارښود اصول ګڼل کېږي. د دې مطالعې په رڼا کې لاندې وړاندیزونه وړاندې کېږي:

۱ - اسلامي هېوادونو ته په کار دي چې خپل سیاست او هر اړخیزه پالیسي د رسول الله ﷺ د سیاست او پالیسۍ سره برابره کړي، کومه چې پر عدالت، ځیرکتیا، تدبیر او د امت د یووالي اصولو ولاړه ده.

۲ - د مخالف، رقیب او حتی دښمنانو سره په تعامل کې نرم‌خوايي، ښه رویه او اخلاق عملي کړي، ترڅو خپلې سپېڅلې موخې په غوره او سوله‌ییزه توګه ترلاسه کړي.

۳ - د اسلامي دولتونو مشران او پالیسي جوړونکي باید د رسول الله ﷺ د سیاسي تدبیرونو عملي مثالونه زده او په خپلو دولتي چارو کې یې د تطبیق لپاره هڅې وکړي.

۴ - د اسلامي سیاست بنسټیز اصول لکه عدالت، شفقت، د خلکو د حقونو رعایت او د اختلافاتو حل په سوله‌ییزه توګه باید د ټولو اسلامي هېوادونو د پالیسۍ په ستراتیژیو کې ځای پر ځای شي.

۵ - د رسول الله ﷺ د سیاسي اخلاقو، تدبیر او پالیسۍ زده کړه باید په تعلیمي او روزنیزو پروګرامونو کې شامله شي، ترڅو راتلونکي مشران له تاریخي تجربو څخه سمې لارې زده کړي او په اسلامي اصولو عمل وکړي.

**مأخذونه**

القرآن الکریم.

- ابن هشام، عبدالملک.(۱۹۹۷)، السرة النبویة، ج ۱، ناشر: دار احیاء التراث العربي - بیروت.
- الصالحي الشامي، محمد بن یوسف.( ۱۹۱۴) سبل الهدی والرشاد في سیرة خیر العباد، دار الکتب العلمیة، بیروت، لبنان، ج:۵، الطبعة الاولی.
- الشامی، صالح احمد الشامی.( ۱۳۸۵) تربیت و حکومت سیره در رسول الله، مترجم، محمد ملازاده، چاپ اول، نشر احسان: تهران.
- الطبري، محمد بن جریر.(۱۹۹۰)، تاریخ الامم والملوک، ج ۳، ناشر: دارالکتب العلمیة، بیروت.
- ابن شبه نمیري، عمر بن شبه.( ۱۳۳۷)، تاریخ مدینه منوره، مترجم، حسین صابری، تهران: نشر مشعر.
- ابن کثیر، اسماعیل بن عمر.(۱۹۸۷)، السرة النبویة، ج ۲، ناشر: دارالکتب العلمیة، بیروت.
- سباعي، مصطفی.( ۱۳۶۹) درسونه او عبرتونه، ژباړن، سلطان محمود صلاح، لومړی چاپ، الهدی خپرندوی مرکز: پېښور.
- شرف الدین محمد بن عبدالله بن عمر.( ۱۳۸۲) خلاصه سیرت رسول الله ﷺ، چاپ دوم، شرکت انتشارات علمی وفرهنگی: تهران.
- محب، عبدالکریم.( ۱۳۹۰) عظیم السیر د رسول الله ﷺ عظیم اخلاق، لومړی چاپ، د افغانستان ټایمز مطبعه: کابل.
- منصور احمد.( ۱۳۹۱) د پیغمبر «ﷺ» خوږې خاطرې، ژباړن، نجیب الله جالب، مومند خپرندویه ټولنه: جلال آباد،.
- ندوي، ابو الحسن علي.( ۱۳۹۰) خاتم النبیین محمد رسول اللهﷺ، ژباړن، حسبان الله متوکل، دوهم چاپ، اتنتشارات اصلاح افکار: کابل.

- نن ټکی آسیا.(۲۰۲۰ = ۱۴۴۲)، د مکي فتحه/ لومړی برخه.
https://www.google.com/url?sa=t&source=web&rct=j&opi=89978449&url=https://www.nunn.asia/
- همدانی، رفیعلیه السلامالدین اسحق بن محمد.( ۱۳۶۰) سیرت رسول الله ﷺ، چاپ اول، سازمان چاپ و انتشارات وزارت فرهنگ وارشاد اسلامی: تهران.